
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف عمومي ریاست
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت

# هنر

A R T

اووم ټولګی



درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري،
په بازار کې یې اخیستل او خرڅول په کلکه منع دي.
له سرغړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونكو د
روزنې او د ساينس د مركز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
كتابونو د تاليف لوی رياست

# هنر او ومه ټولګی

**د چاپ کال ۱۳۹۰ هـ. ش**



(c) ketabton.com: The Digital Library

**مؤلفان:**

سیدانور میچنخیل د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی

محمد غالب الله یار د هنرونو د دیپارتمنت امر

**علمي او مسلکي اډيټور**

سید انومیچنخیل

**د ژبې او ادبیاتو اډیټوران**

محمد قاسم هیله من د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د پروژې غړی.

مولف محمد سهراب دیدار

**د ایډیټ مسلکي کمیته**

پوهنمل عبدالحی فرحمند د هنرونو د پوهنځي استاد

**د پوهنې وزارت:**

غلام محمد راهي د هنر د مضمون ښوونکی

عاطفه شبنم عارفي د هنر ښوونکې

**دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه:**

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد یوسف نیازی
- حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې

**د څارنې کمیټه:**

ـ دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین

ـ دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول

ـ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

**طرح او ډیزاین**

رحمت الله غفاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه اسمان

په سینه کې د اسیا به — لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوهنې د وزیر پیغام

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، دوطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو، تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ١ | کرښه او یا خطونه | ١ |
| ٢ | په خطونو انځور کري | ٣ |
| ٣ | په افغانستان کې له اسلام نه مخکې د هنر تاریخ | ٥ |
| ٤ | له هنري وسیلو سره اشنایي | ٩ |
| ٥ | شکل ، سطح او حجم | ١٣ |
| ٦ | په ګوتو ټاپه کول | ١٥ |
| ٧ | شکل ( سطح او حجم) | ١٧ |
| ٨ | د ډبرو ددوري هنر | ١٩ |
| ٩ | د سیمي کُرې جوړول | ٢١ |
| ١٠ | له میوې څخه د ډک لوښي انځورول | ٢٣ |
| ١١ | د بین النهرین، ایران او لرغوني مصر هنرونه | ٢٥ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | له رس ختې ځخه د حجمونو جوړول | ۲۷ |
| ۱۳ | د خپلې خوښې د فصل انځورول | ۲۹ |
| ۱٤ | له رس ختې ځخه د ګوتو د فشار په طريقه د حجم جوړول | ۳۱ |
| ۱٥ | د هند، لرغوني چين او جاپان هنرونه | ۳۳ |
| ۱٦ | جوړښت يا بافت | ۳٥ |
| ۱۷ | د خټينوحجمونو رنګه کول | ۳۷ |
| ۱۸ | د لرغوني يونان او لرغوني روم هنرونه | ۳۹ |
| ۱۹ | د بېلو بېلو سيمي حجمونو جوړول | ٤۱ |
| ۲۰ | د مسيحيت هنر | ٤۳ |
| ۲۱ | له طبيعي موادو ځخه د لاسي کارونو جوړول | ٤٥ |
| ۲۲ | د افغاني هنرمندانو پېژندل | ٤۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱



## کرښه او یا خط

### خط څه شي ته وايي؟
### په خپل چاپيريال کې کوم خطونه وينئ؟

د کاغذ په پاڼې يوه کرښه و کاږئ.هغې نښې ته چې د پنسل له نوکې څخه پر سپين کاغذ پاتې کيږي،ټکى يا نقطه ويل کيږي.د يوه کاغذ پر مخ د انسان د لاس حرکت خط جوړوي چې د ټکو يا نقطو مجموعه ده.که ددواړو لاسونو ورغوي سره و نښلوو، ددواړو لاسو تر منځ يو نوى خط ليدل کيږي. که لاسونه سره جلاکړو، هغه له منځه ځي.د ځمکې او اسمان تر منځ يو خط ليدل کيږي چې د ((افق))په نوم ياديږي.دا خط د سمندر په خواکې په ښه توګه د ليدلو وړ دى.هر څومره چې کښته او پورته ولاړ شو، د سمندر خط هم زمونږ سره ځي او راځي. له دې امله د افق خط د انساني ديد دارتفاع





(۱ انځور)مستقيم خطونه)

له نظره تغیر کوي. د بېلو بېلو شیانو او موجوداتو په څنګ کې یو خط لیدل کېږي چې کولای شو د هغه په واسطه د هر شي شکل وښیو. کولای شو چې غر، الوتونکي، مڼه، کور، موټر، کښتۍ، الوتکه او داسې نور په بېلو بېلو





(۲ تصویر) مات شوي خطونه


خطونو وښیو.

هغه خطونه چې موږ په خپله شاوخوا کې وینو مختلف ډولونه لري. کولی شو چې هغه په درو برخو وویشو. ۱- مستقیم خط ۲- منحني خط ۳- منسکرخط ( مات شوی خط) ۱- ۲- ۳- شکلونو ته وګورئ





(۳ شکل) منحني خط



**تمرین:**

۱- په طبیعت او خپل چاپیریال کې د مستقیمو خطو ډولونه پیداکړئ.

۲- د منحني خطونو نمونې په طبیعت او خپل چاپیریال کې پیداکړئ.

۳- بیل بیل منکسر خطونه په طبیعت او چاپیریال کې ولټوئ.

٤- د عمودي، افقي، مایل او مستقیمو خطونو نمونې په کومو ځایونو کې وینئ.

۵- ډول ډول خطونه چې مو پیداکړل، بیا یې سره پرتله کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲

## په خطونو انځور کړئ:

## ایا د انځورولو لپاره په لومړي سر کې باید باید ځانګړی موضوع په پام کې ولرو؟

د خطونو په مرسته شکلي شکلونه انځورولای شو. یو ساده خط انتخاب کړئ او هغه د نورو خطونو په مرسته داسې بشپړ کړئ چې ستاسې د خوښې انځور رسم کړي. ددې کار لپاره د خط شکل او دهغه حالت ته باید په ډېر غور او دقت پاملرنه وکړئ.


د خطونو په لیدلو د کوم شکل په فکر کې لوېږئ؟ دنورو خطونو په زیاتولو سره یو شکل رسامي کړئ، تر څو هغه شی چې تاسې په خپل ذهن کې مجسم کړی دی، ووینئ.

ددې کار لپاره کولی شئ، خپل کاغذ بېلو بېلو خواوو ته تاو کړئ. کیدای شي چې له کومې بلې زاویې څخه یو مناسب شکل پیدا کړئ. وروسته هڅه وکړئ چې هغه د خپلې خوښې په شکل بدل کړئ.

د هغې د بشپړولو لپاره د موضوع جزئیات په لومړني خط ور زیات کړئ او خپله طرحه بشپړه کړئ. بیا هغه په خپله خوښه رنګه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**تمرین**:

۱-په بېلو بېلو منحني خطونو د خپلې خوښې شکل رسامي کړئ.

۲-د مات شويو خطونو (منکسر)څخه په ګټه اخيستنه ډول ډول شکلونه انځور کړئ.

۳-د عمودي،افقي او مايل مستقيمو خطو څخه ابتکاري شکلونه جوړ کړئ.





(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳


# د افغانستان د هنر تاریخ
# د افغانستان د لرغونو آثارو په هکله معلومات لرئ؟



(۱ انځور) د عاج له جنس څخه د میزیوه وړه پښه.

د افغانســتان ډېر پخواني انســاني وســایل د ((ډبرو په لومړۍ))دورې پورې اړه لري چې د غزني د((ناور))په دښــته کې کشــف شــوي دي.دا وسیلې د اوبســتیدان او چقمق له ډبرو څخه جوړې شوي دي چې تاریخ یې له میلاد نه مخکې سلو زرو کالو ته رسیږي.

(۲ انځور) په بگرام کې دلاس ته راغلو اثارو اندازه (CM ۸۷۳



تیرونه، د ډبرو هستې او تېرې ډبرې یا په طبیعي شکل او یا د انسان په لاس جوړې شــوي او په کار وړل شوي دي. ددې وســیلو جوړول د ډیرو پخوانیو زمانو انساني مهارت شمیرل کیږي.

د ډبرو د منځنۍ دورې ټولنې په غارونو کې اوسیدې.

د انســانانو د ژوندانــه ارزښــتمن اثــار چــې د ســمنګانو د ((اق کپرک))او ((هــزار ســوم)) په غارونو کې پیدا شــوي دي، په زړه پــورې اثار دي چې د ډبرو په منځنۍ دورې پورې اړه لریدا په افغانســتان کې د لومړنیو انســانانو د ژوندانه ډیر په زړه پورې اثار دي. په دې غارونو کې د کار په وســیلو ســربیره د خطونو او نقاشــیو نمونې هم لیدل شــوي دي. ځینې پوهان په دې باور دي چې دا پیچلي او په یو بل پورې تړلي خطونه په افغانســتان کې د نقاشــۍ او رسم الحظ



(۳ انځور) د مرمرو په ډبرو کې کیندل شوی.

لومړنۍ نمونې دي چې په دې غارو کې کشف شوې دي.

ددې اثارو تاریخ له میلاد نه مخکې د شلو زرو نه تر پنځو سو زرو کالو پورې رســیږي. د بدخشــان دکور په دره کې ځینې کشف شوي اثار د ډبرو په نوې دورې پورې اړه لري. په دې دوره کې په صیقل شــویو ډبرو سربیره د مذهب علامې هم لیدل شوي دي. د مړو د ښخولو له طریقې څخه داسې معلومیږي چې ددې حوزې انسانان د عقیدو او معنوي مراسمو در لودونکي وو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسانانو ذهني پراختیا، د باورونو ایجادول او عقیدې په حقیقت کې د ډېر پخواني هنري آثار، لکه: نقاشي،مجسمه جوړونه او بیلا بیل سفالي لوښي د((مندیگک))په اثارو کې کتلای شو. مندیگک یوه لرغونې سیمه ده چې د ((گنداهارا))((اوسني ننگرهار)) په شمال لویدیځ کې پرته ده. ددې لرغونې سیمې په اثارو کې ختیني مجسمې او سفالي لوښي چې په هندسي منظمو انځورونو ښکلي کړای شوي دي او د معمارۍ هنر کشف شوی دی چې تاریخ یې له میلاد څخه مخکې دری زره کالونو ته رسیږي.

د فاریاب ولایت د ((داشلي))په سیمه کې د مهرونو او وزنونو کشف کیدل د هنر د پراختیا ښه ثبوت دي دا مهرونه په ډېر مهارت سره جوړ شوي دي.کورنیو مهرونو د امیرانو له مهرو سره توپیر در لود. ددې کشف شوو اثارو تاریخ له میلاد نه مخکې یو زرو کلونو ته رسیږي.

د بلخ په ((ای خانم))کې د ښیښو جوړولو او په هغې کې د نقشونو دانځورولو مهارتونه په افغانستان کې د هنر د پراختیا یو بل پړاو بلل کیږي. سربیره پردې په بلخ او ای خانم کې په زیاته اندازه ښیښه یې گیلاسونه چې شاوخوا یې په ښکلو او رنگه نقشونو او انځورونو ښکلي شوي،کشف شوي دي. په همدې سیمه کې یو ورزشي لوبغالی (ستدیوم)چې په څلور ضلعي تیږو باندې فرش دی،کشف شوی دی. هغه څه چې دای خانم دریځ له نورو ساحو څخه جلا کوي دا دي چې د لومړي ځل لپاره د یونان او یونان- باختري هنر د مجسمو په جوړولو کې د ودانیو د کار وسیلې، د ښکلا سامان او الې لیدل کیږي چې د هغو تاریخ له میلاد څخه وړاندې لومړۍ او دویمې پیړۍ ته رسیږي.((طلا تپه))د افغانستان یوه بله لرغوني سیمه ده.له طلا تپې څخه په ښکلو ښایسته ډیزاینونو جوړ شوي



(٤ انځور)لاس بند د حیوان په انځور ،بدخشان)



( ٥ انځور دجواهراتو صندوق دعاج کندن کاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

له یوویشــتو زرو څخه زیات طلایي اثار کشــف او تر لاسه شوي دي. دا هنري اثار ډېر زيات ارزښــت لري. د ونو پاڼې، د هوســۍ مجســمه،ډول ډول لاس بندونــه چې په لاجوردي غمیو ښــکلي شــوي دي،په دې لرغونــو اثارو کې شامل دي.

یــوه بله ســیمه چې د افغانســتان د هنر پــه تاریخ کې ځانګړی ځــای او ډېر ارزښت لري،هغه د بامیانو سیمه ده، د بامیانو ولایت د افغانستان په مرکز کې پروت دی. د بودا لویو مجسمو چې په ټوله نړۍ کې سارى نه لري دې سیمې ته ښکلا ور بخښلې وه چې د ((صلصال))او ((شمامه))په نوم یادیږي. نوموړي اثــار ددریمې او څلورمې میلادي پیړیو شــهکارونه دي. د الویې مجســمې د ګنداهــارا او یونان- بودایــي ګډ هنري ترکیب دی. په نــړۍ کې د لومړي ځل لپــاره د بامیانو پــه مغارو کې د انځورولو په موخه لــه روغني رنګ څخه ګټه اخیستل شوې ده.

په بګرام کې د کشــف شــویو اثارو هنري ارزښتونه د افغانستان د هنر په تاریخ کې ټاکلی ځای لري.

د بودامناســبه او دښــکلې څېرې لرونکې مجســمه په هډه کې جوړه شــوې ده. ددې دورې آثــار د ګنداهــارا د مکتــب په نوم یاد شــوي دي. دګنداهارا په مکتب کې معنویت له هند او مادیت له یونان څخه اخیســتل شوي دی. ددې اثارو تاریخ څلورمې،پنځمې او شپږمې میلادي پیړیو ته رسیږي.

( ٦ انځور) پربرونزوکې جوړه شوی کاسه د اوښکو د څاڅکو طرح



**تمرین:**

ایا ستاســو په چاپیریال کې،لرغوني اثار پیدا شــوي دي؟ په دې اثارو کې کوم کوم شیان شامل وو؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۴

# له هنري وسیلو سره اشنایي

**د نقاشۍ او لاسي کارونو د فعالیت د سرته رسولو لپاره کوم شیانو ته اړتیا لرئ؟ په کومو وسیلو کولای شئ نقاشي وکړئ؟**

**د لاسي کار د جوړولو لپاره له کومو شیانو څخه کټه اخلئ؟**





(۱ انځور) رنګه پنسلونه

خپلې خیالي او ذهني مفکورې د نقاشۍ، انځورګرۍ او لاسي کار په شکل سرته ورسوئ او هغه نورو ته وښیاست. د نقاشۍ او د لاسي کارونو د جوړولو لپاره له بېلو بېلو وسیلو څخه ګټه اخیستل کېږي. که د نظر وړ مواد نه وي، نو کیدای شي نورې وسیلې یې په ځای وکاروو. یا هغه ته ورته وسیلې جوړې کړو. مثلاً د نقاشۍ په آبي رنګونو معمولاً له مویک قلم څخه کار اخیستل کېږي. کولای شو په ګوته، سفنج او یا هغه مویک قلم چې په خپله مو جوړ کړی وي، په آبي رنګونو انځورګري یا نقاشي وکړو. تاسې فکر وکړئ چې د نورو کومو شیانو په واسطه کولای شو په ابي رنګونو نقاشي وکړو؟ هغه وسیلې چې د هنري کارونو لپاره کارول کېږي، په درو برخو ویشل کېږي:



( ۲ انځور) ابي رنګ، مویک او د اوبو ګیلاس

۱- هغه وسیلې چې اثر یا نښه یې پاتې کیږي، لکه: پنسل، رنګه پنسل سکاره، سیاهي، ابي رنګونه، روغني رنګونه او ... رنګه جوهر، ابي او روغني رنګونه معمولاً د مویک قلم په مرسته د نقاشۍ او رنګه کولو لپاره کاروي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-هغه وسیلې چې نښه پرې ایښودل کیږي، لکه: کاغذ،مقوا یا پنډ کاغذ،رخت یا تکه،خته،کودي،طبعي مواد(د ونو پاڼې، د الوتونکو بڼکې،لرګي،ډبره،...)مصنوعي مواد (نخ،سیم ...)چې د نقاشۍ او دلاسي کارونو د جوړولو په وخت کې کارول کیږي.

۳-کومکي وسیلې، لکه: د طراحۍ یا انځورګرۍ تخته، خط کش، پنسل تراش،پنسل پاک، د اوبو لوښی، د ترس کاغذ(لږ څه شفاف کاغذ)،بیاتي،سلېښت،شکاستیب،ورنس...چې د رسامۍ، نقاشۍ، رنګه کولو او لاسي کارونو په برخه کې یې کاروي. دا وسیلې کار اسانوي، خو نشتوالی یې د فعالیت د سرته رسولو مانع کیدای نشي.دهغووسیلو چې زمونږ په واک دي، لکه: (طبیعی مواد)ځینې وسیلې چې موږ ورته اړتیا لرو او په لاس کې یې نه لرو، نو باید هغه له محیطي طبیعي موادو څخه په ابتکاري ډول جوړې کړو.دا کار زموږ سره د کار په سرته رسولو کې مرسته کوي.یا په بل عبارت د ابتکاري وسایلو جوړول له هغه وسیلو څخه چې په واک کې مو نشته، خورا زیات ارزښت لري.که سلېښت مو نه درلود له سرښنا کې مادې څخه استفاده کولی شو؟نښه پرېښودونکي وسیلې د نقاشۍ، رسامۍ او رنګه کولو لپاره کارول کیږي.ځینې وسیلې سیایي لرونکي وي، لکه: پنسل، سیایي او سکاره خو ځینې نور یې رنګه وي،لکه: رنګه پنسل، رنګه جوهر، ابي رنګونه، روغني رنګونه او طبیعي پوډري رنګونه.
له پنسل او سکرو څخه استفاده کول اسان دي.کولای شو دکاغذ په مخ مستقیماً


(۲ انځور) ابي رنګ، مویک قلم او د اوبو لوښی


(۳ انځور) ابی رنګونو ځانګړی لوښی او د اوبو لوښی


(٤ انځور) کاغذ د رسامی په تخته په سکاشټیپ نښلول شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې کار وکړو. ابي رنگونه او جوهري رنگونه له اوبو سره باید ګډ یا مخلوط شي تر څو د هغو ټینګوالی یا غلظت مناسب شي او په اسانتیا سره د کاغذ پر مخ ښکاره شي. روغني او پوډري رنگونه له خاصو تیلو سره مخلوطیږي تر څو مناسب ټینګوالی پیدا کړي چې پر یوې سطح باندې په ښه ډول وکارول شي. ترکیبي مواد له مویک قلم یا چاړې په واسطه پر سطح باندې استعمالیږي. که د روغني رنگ ټینګوالی مناسب وي، نو رنگ په مویک پورې نه نښلي او په ډېره اسانتیا له مویک څخه د سطحې په مخ بیلیږي. له ابي او جوهري رنګونو سره چې اوبه زیاتې شي، کم رنګه کیږي. همدارنګه له روغني او پوډري رنګونو سره چې تیل زیات ګډ شي، نرۍ (رقیق) کیږي. د روښانه رنګونو د جوړولو لپاره همدا مواد له سپین رنګ سره مخلوطوي. په ابي او روغني رنګونو باندې د نقاشۍ لپاره باید د رنګ په ترکیب و پوهیږئ. وروسته د زیات تمرین له امله کولای شئ چې د رنګ مناسب ټینګوالی پیدا کړې. تر څو وکولای شئ چې د مویک په واسطه هغوی د نقاشۍ او رنګه کولو لپاره وکاروئ.



(۵ انځور د رنګ کارولو مختلفې وسیلې.

کوم مواد پیژنئ چې د نقاشۍ یا رنګه کولو لپاره مناسب وي؟ ایا ستاسې د ژوندانه په چاپیریال کې طبیعي رنګه مواد پیدا کیږي؟ د هغې نمونې پیدا کړئ او د نقاشۍ او رنګه کولو لپاره یې وکاروئ. مواد او نښه پرېښودونکي وسیلې په زیاته اندازه د رسامۍ، نقاشۍ او د لاسي کارونو لپاره کارول کیږي. نښه منونکې وسیلې، لکه: کاغذ، مقوا، یوه ټوټه لرګی، ډبله ټوټه، د کارتن مقوا، سفالي (خټین) کورني لوښي او پوزي چې د رسامۍ او نقاشۍ لپاره کارول کیږي. په دې شیانو انځورونه او نقاشي کیدلای شي که وغواړو چې په ابي رنګونو نقاشي وکړو، نو کاغذ مو بایدلږ څه ډبل او پیړ وي. که چیرته کاغذ نازک وي، نو د کار په وخت کې څیرې کیږي. که په کورنیو لوښو، پوزي او یا لرګي باندې کار کوو، باید له ټینګ یا غلیظ ابي رنګ څخه کار واخلو. د لاسي کارو د جوړولو لپاره، جوړه شوې ختې، بېل بېل طبیعي مواد، لکه: (د ونې پاڼې، ډبرې د الوتونکو بڼکې، ...) او هغه مصنوعي مواد چې په لاس



(c) ketabton.com: The Digital Library


کې یې لرئ،لکه: (سیم ،نخ،باطله قطي،کاغذ،او باطله مقوا،...) د استفادې وړ دي.تاسې کولای شئ چې له هغې څخه په خپله خوښه لاسي کار جوړ کړئ.د کار د پیل لپاره ختې سمه کښیکاږئ او په سوکونو یې ووهئ. بیا پرې کار وکړئ، خو باید و پوهیږئ چې ختې او خپل ختین لاسي کار باید په پلاستکي کڅوړه کې تاو کړئ،تر څو هوا یې ونه وهي او ژر وچ نشي (ختین کارونه باید ورو ورو وچ شي تر څو ونه چوي.له سیم نه د لاسي کارونو د جوړولو په وخت کې باید غور و کړئ چې د سیم تېرې څوکې مو لاسونه ژوبل نه کړي.د هنري کارو د سرته رسولو لپاره نورو وسایلو ته هم اړتیا لرو، لکه: د ترس کاغذ یا سکاشتیپ چې د لاسي کار د بېلو بېلو برخو د یوځای کولو لپاره پکاریږي.یا ترس کاغذ چې د مختلفو ډیزاینونو د کاپي کولو لپاره کارول کیږي. له بیاتي او د څیرې کولو له چاړې څخه د کاغذ او مقوا د زیاتي بر خو پرې کولو لپاره استفاده کیږي،خو ددې وسیلو تېرې څوکې ته مو پام وي چې پرې خوږ نه شئ.د اوبو د لوښې اندازه باید مناسبه او درنده وي چې د ابي رنګونو د استعمال لپاره په کاریږي،ځکه چې په اسانی سره نه چپه کیږي.د نقاشۍ او لاسي کارونو،له تیاریدو وروسته د رنګونو د ثابت پاتې کیدلو لپاره له وارنس څخه ګټه واخلئ.وارنس د رسامۍ د مویک او یا د لو یې تونې سفنج په واسطه د سطحې په مخ و موښئ.کله چې وچ شي نو سلیښوالی یې له منځه ځي.

تمرین:

۱-د نقاشۍ د سطح لپاره له کومو وسیلو څخه استفاده کوئ.دهغې په هکله په خپلو کې خبرې وکړئ.

۲-د ځان لپاره یو مویک قلم جوړ کړئ.د مویک قلم د جوړیدو لپاره د کارغه،کوترې،چرګ دبڼکو اویا د اس او یا هغه ته د ورته حیوان د وربو او یا یې د لکۍ ویښتانو او یو ظریف او ښکلي لرګي ته اړتیا لرئ.د اس او یا د خره د ویښتانو یوه اندازه په تار کلکه و تړئ.وروسته بیا د چرګ،کوترې، او یا کارغه بڼکه چې منځ یې خالي وي، د ویښتانو غوټه شوې برخه د بڼکې په یوه طرف داسې ور دننه کړئ چې پکې ټینګه شي او په بل سر کې یې هغه ظریف لرګی ور دننه کړئ تر څو د مویک قلم مو جوړ شي.

۳-د ابي رنګونو بېل بېل رنګونه د مویک قلم په واسطه را واخلئ او د یوه ډبل کاغذ پر مخ یې کښیږدئ، تر هغه پورې تمرین وکړئ تر څو رنګونه د کاغذ پر مخ د نقاشۍ لپاره مناسب ټینګوالی پیدا کړي.





(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵

# شکل، سطح او حجم



**په خپل شاوخوا کې چې کوم شکلونه وینئ هغه سره مقایسه کړئ.**

**زموږ په شاو خوا کې ټول شکلونه په دوو ډولو ویشل کیږي.**

**سطح او حجم**

زموږ په شاوخوا کې ځینې شکلونه یوازې طول او عرض لري چې هغې ته ((سطح)) وایي لکه د ونې یوه پاڼه او ځینې نور یې طول،عرض او ارتفاع لري چې هغې ته (حجم) وایي.

سطح په دوو ډولو ویشل کیږي:

هندسي سطحې(لومړي تصویر ته وګورئ)او غیر هندسي سطحې.(دویم تصویر ته وګورئ)په خپل شاوخوا کې کومې سطحې وینئ؟ کومې هندسي او کومې غیر هندسي دي؟



( ۱ انځور) هندسي شکل ( حجم)



( ۲ انځور) غیر هندسي شکل ( سطح)



( ۳ انځور) بېل بېل ٦ هندسي مجمونه

په طبيعت کې ډېرې دايروي سطحې ليدل کېږي، لکه: د ځوارلسم مياشت او دلمر پرست ګل منځ. د بشر په لاس جوړ شوو شيانو کې هم د سطحو ډولونه پيداکيږي، لکه:غاب او د تلويزيون مخ. په طبيعت کې غير هندسي سطحې په بېلو بېلو بڼو پيداکيږي.د بېلګې په ډول د ونو د پاڼو مختلفو ډولو ته او دېتنګ ورزو ته پام وکړئ.د حجمونو ډولونه هم په دوو ډلو ويشل کيږي.يو يې هندسي حجمونه او بل يې غير هندسي حجمونه.(۳ تصوير) او ځلورم تصويرونو ته پام وکړئ.په خپل شاوخواکې کوم حجمونه وينئ؟ کوم يو يې هندسي اوکوم يو يې غير هندسي دی؟

په طبيعت کې بېل بېل کروي حجمونه وجود لري،لکه: د لمر سترګه او دشمسي منظومې ستورې د انسان سر، ميوه او الوتونکې



( ٤ انځور) هندسي شکل (حجم)



( ٥ انځور) هندسی شکل ( سطح)

د انسان په لاس په جوړ شوو حجمونو کې هم بېل بېل هندسي حجمونه پيدا کولای شو، لکه: د پنډسکو ډولونه، د قيطو بېل بېل ډولونه، ودانی او .......



**تمرين**:

۱-د هندسي او غير هندسي حجمونو دوې نمونې سره مقايسه کړئ.

۲-ايا د انسان په لاس جوړ شوي او د طبيعي حجمونو ترمنځ ورته والی وينئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۶





# په ګوتو ټاپه کول


## ایا کولای شئ چې له هر ساده نقش څخه د خپلې خوښې شکل جوړ کړئ؟

چاپ، د ډول ډول رنګه انځورونو د جوړولو لپاره یو چټک میتود دی چې د مهر او رنګ په واسطه سرته رسیږي.په لاسي چاپ کې له بېلو بېلو مهرونو څخه ډېر ساده او په چټکتیا کولای شو لویې سطحې نقاشي، رنګینې او ښکلې کړو.د چاپ مهرونه بېل ډولونه لري او دخپل چاپېریال له شیانو څخه د مهر پر ځای ګټه واخلئ.دچاپ لارې چارې او طریقې یې هم ډېرې زیاتې دي. په دې درس کې لاسي چاپ له یوتیار مهر څخه په ګټه اخستنه چې هغه د ګوتو سرونه دي،سرته رسوو.له ګوتې نه د چاپ د اخیستلو لپاره خپله ګوته په ابي رنګ یاکوم بل رنګ کښیکاږئ او بیایې په بیړه په یوه سپین کاغذ ولګوئ داکار څو واره په مختلفو رنګونو تکرار کړئ، تر څو ستاسې د کاغذ سطحه له مهرونو ډکه شي.











(c) ketabton.com: The Digital Library








وروسته له هغې چې رنګ وچ شي، نو بيا د ګوتو نښان په غور وګورئ او د
خطونو په زياتولو سره د خپلې خوښې شکل ترې جوړ کړئ.



















**تمرين:**

د نقاشۍ لپاره د خپلې خوښې موضوع انتخاب کړئ او په مختلفو
رنګونو د ګوتو د چاپ لارې چارې او د خپلې خوښې موضوع نقاشي کړئ



(c) ketabton.com: The Digital Library

7



# د سیمي کُرې جوړول ستاسي په شاوخوا کې کوم شیان کُرې ته ورته دي؟

کره یو دایروي حجم دی چې کولای شو له مختلفو موادو څخه یې جوړ کړو، لکه: د والیبال او فوتبال پنډوسکي. د میوو له ډلې څخه نارنج، مالته، کینو دا ټول کروي حجمونه دي. اوس غواړو چې له سیم، ډبل تارونو، درجې له تار او پړي څخه یوه کُره جوړه کړو. که تاسې غواړئ له سیم څخه کُره جوړه کړئ، نو پام کوئ چې د سیم د تاوولو په وخت کې ځانونه ټپي نه کړئ. لومړی سیم، تار، درجې تار او یا پړی د یوې تُشلې په اندازه گرد تاو کړئ، وروسته بیا تارونه په ډیر مهارت د هغې په شاوخوا تاو کړئ چې یوه کُره جوړه شي.





(c) ketabton.com: The Digital Library



د تشلۍ په شان يوه وړوکې کُره له سيم يا نخ څخه



له مختلفو موادو څخه څو ډوله کُرې تکميل شوي دي.

دکُـرې لـه جوړولـو وروسـته د هغـې پـه هکلـه فکر وکـړئ او هڅه وکـړئ چې له پورتنيو مـوادو څخه بېل بېل شـکلونه،لکه: ميوه،گل،الوتونکي او داسې نور جوړ کړئ. دکور او ټولگي په ښکلي کولو کې خپل رول و لوبوئ. په کُره باندې د نورو موادو په زياتولو، لکه: (بڼکې، د ونې ساقه،صدف،مندکې،د ميـوو پوسـتکي،کاغذ،مقوا،...) د خپلـې خوښې ابتکاري شکل جوړ کړئ او په پای کې کولای شئ هغه رنگه کړئ:



له کُرې څخه يوه ښکلې الوتونکې جوړ شوې دی



په کره کې جوړ شوی کب



**تمرين:**

۱- جوړې شوي کُرې ننداري ته وړاندې کړئ.

۲- د جوړو شوو کُروي شيانو په هکله سره وغږيږئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library




# ۸

## د ډبرې د دورې هنر

### ایا پوهېږئ چې ډېر لرغوني هنري اثر کوم او په کوم ځای کې منځ ته راغلي دي؟

د تېږو په دورې پورې تړلي هنري اثار چې د بشــر په لاس د غارونو په دیوالو نقاشي شوي دي، د ډبرو په دورو پورې اړه لري. د ډبرو د لرغونو اثارو لومړنی نمونــې چې د ډبرو په دورو پورې اړه لري د فرانســې د((لاسـکو)په غارونو او د هســپانیې د (التامیرا)پــه غارونوکــې پیدا شــوي دي.لومړني تصویر ته پاملرنه وکړئ،څه شــی وینئ؟لطفاً هغه پوښتنې چــې ستاســې پــه ذهن کــې پیدا شــوي ووایئ.دویــم تصویــر د ډبرو پــه منځنۍ دورې پــورې اړه لري.په دې نقاشــۍ کې او لــه هغې نــه په مخکــې دوره کې کوم



(۱ انځـور) لـه میلاد نه مخکـې د ۱۰۰۰ تر ۱۵۰۰ ق م پـه حـدودوکې د فرانسـې د لا سکا په غارونو کې انځورګري



( ۲ انځور) د ډبرو په منځنۍ دوره کې د ایران په لرستان کې ۸۰۰ ق م په حدودو کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

تفاوتونه وینئ؟

انسانانو په تدریجي ډول پر مختګ وکړ، په بزګرۍ او مالدارۍ یې پیل وکړ د هغوی ژوند ډېر تغییر وکړ. علوم او مختلف هنرونه یې را منځته کړل.


٤ او ۳ تصویرونو ته پاملرنه وکړئ:

د ډبرې د نوې دورې هنري اثار له نورو دورو سره مقایسه کړئ:

(۲ تصویر) ته پاملرنه وکړئ د ډبرې د دورې هنري اثار د نورو دورو سر پرتله کړئ



(۳ انځور) د ډبرې د دورې انځور شوی ګیلاس چې د ایران په شوش کې پلاس راغلی دی ٤۰۰۰ ق م.



(٤ انځور) د ډبرو په نوې دوره کې د انګلستان د مالزبرۍ په دښته کې له ډبرو څخه جوړ شوی دی.

**تمرین:**



۱- ایا کله له خپلوانو سره ښکار ته تللي یاست؟

۲- د ښکار صحنه د کیسې یا تمثیل او یا د نقاشۍ په ډول وړاندې کړئ:



(c) ketabton.com: The Digital Library

٩



# رنگ

## ستاسو په فکر که رنګ نه وای څه به شوي وای؟


په طبیعت کې هر یو شکل یو رنګ لري. د بشر په لاس د جوړو شوو شیانو او هم د ټولو شیانو له پاره رنګ یو پوښ دی. ځینې رنګونه په طبیعت کې ډیر زیات دي. ۱او ۲ تصویر ته پام وکړئ. انسانانو تر اوسه ۱۶ میلیونه رنګونه جوړ کړي او د رنګه کولو لپاره یې کار ولي دي.



تاسې پخوا زده کړي دي له درو اصلي رنګونو څخه (زیړ، سور او شین آسماني) بې شمېره رنګونه جوړیدلی شي. دا درې رنګه له نورو رنګو څخه نه شي جوړیدلی او بیخي خالص رنګونه دي.



(۱تصویر) د طبیعت مختلف رنګونه



(۲تصویر) د طوطي رنګیني بڼکې




(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوو اصلي رنګونو د يو ځای يا ترکيب له امله دريم رنګ جوړيږي.

لاندې شکل ته ځير شئ:



دريم تصوير و ګورئ

کيدلای شــي دا هر يو رنګ له ســپين رنګ ســره ترکيب کړو، ترڅو شـفاف او روښانه شي.

څلورم تصوير ته وګورئ.

همدارنګه کولای شو دا رنګونه له تور رنګ سره يوځای يا ترکيب کړو تر څوتت او تياره شي. رنګه مواد په دوو ډلو ويشل کيږي. زيات طبيعي رنګونه له معدني موادو څخه، لکه: (د ســکرو پوډر او د لاجوردو پوډر) او دوښــو رنګونه، لکه: (د پياز له پوټکي او د انارو له پوټکي) څخه جوړيږي. مصنوعي رنګونه له کيمياوي موادو څخه جوړيږي.



(۳انځور) د اصلي رنګونو ترکيب د ثانوي رنګونو د لاسته راوړلو لپاره



(٤ انځور) اصلي رنګونو ته له سپيين رنګ سره ترکيب چې روښانه رنګونه لاس ته راشي.



**تمرين:**

۱ -له دويمې درجې رنګونو څخه يوه نمونه جوړه کړئ!

۲ -دويمه درجه رنګونه دوه برخې کړئ ځينې يې روښانه او ځيني نورتت يا تياره کړئ

۳- دا هر يو رنګ چيرته او د کومو شيانو د رنګه کولو لپاره کاروي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰



# له مېوې څخه د ډک لوښي نقاشي

## ستاسې په شاوخوا کې د نقاشي لپاره کومې په زړه پورې موضوعګانې شتون لري؟

بېلې بېلې میوې د نقاشی لپاره ښکلې او په زړه پورې موضوعګانې دي. د کال هر فصل ګوښې ګوښې میوې لري چې ځانګړې بڼې او خوندونه لري. د هر فصل خاصو میوو ته ځیر شئ.

(۱ تصویر) په مختلفو شکلونو او رنګونو میوې چې بېل بېل جوړښتونه پکې لیدل کیږي





(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو د رنګ،شکل او جوړښت په هکله سره و غږیږئ.دکوم فصل میوې انتخابوئ؟د خپلې خوښې میوې د لوښي په د ننه کې انځور کړئ.کوښښ وکړئ چې میوې او لوښي یې لوی و باسئ او هم غالی ، میز او ... چې میوه پرې ایښې ده،هغه هم رسامي کړئ.په ډیر ځیر او غور یې رنګه کړئ.



(۲ تصویر)په مني کې کومې میوې رسیږي؟



(۳صویر) دتوتانو رنګ،شکل او جوړښت ته پاملرنه وکړئ دا میوې په کوم فصل پورې اړه لري؟



(٤ تصویر)په کوم فصل کې مو میوې دونو په ښاخونو کې لیدلي دي؟



**تمرین**:

د خپلې خوښې میوې په یوې پاڼې کاغذ کې انځور او بیایې رنګه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

11



# د بين النهرين، ايران او لرغوني مصر هنرونه

## ايا پوهيږئ چې زيګورات څه ته وايي؟

د بين النهرين هنر: د بين النهرين تمدن سومري، اکدي، بابلي او اشوري قومونو د دجلې او فرات رودونو په مينځ کې منځ ته راوړ. دوی له خاموخښتو څخه دعبادت لپاره لوی او څو پوړيزې ودانۍ جوړولې چې هغه يې د زيګورات په نامه يادولې لومړی تصوير د زيګورات يوه نمونه راښيي.


د ايران هنر: د ايران هنر له اسلام نه مخکې په دوو برخو ويشل شوی دی. لومړۍ برخه يې د آريايانو له دورې نه مخکې آثار د ((سليک))، ((مارليک)) او ((شوش)) په منطقو کې چې په ايران کې واقع دي، لاس ته راغلي دي. دويمه برخه

(۱- تصوير) زيګورات (زيګورات اور) په بين النهرين کې ۲۱۰۰ کاله له ميلاد څخه مخکې



يې د اريايانو دوره ده چې ډير مهم او ارزښتناك اثر يې ((تخت جمشيد)) دى. دويم تصوير ته پام وكړئ.

د لرغوني مصر هنر: د مصر لوى تمدن د نيل د درياب په څنډو كې مينځ ته راغلى دى. په لرغوني مصر كې ډيرمهم آثار د فرعون په مقبرو پورې تړلي ودانۍ دي په مصر كې تابوتونه او زياتې مجسمې د فرعون او د ملكو په شكل جوړې شوي دي. د مصر په قبرونو كې د ژوندانه صحنې، د غم دودونه، د جنګ صحنې، ښكار او د كركيلې نقاشي شوي دي. دريم تصوير ته وګورئ.




(۲تصوير) د تخت جمشيد دورننوتو دروازه له ميلاد ن۵۰۰ كاله مخكې



(۳تصوير) د مصر اهرامونه((دجيزره اهرامونه)) د ميلاد نه ۲۵۰۰ كاله مخكې.





**تمرين:**

۱-په پخوانيو زمانو كې يې لويې ودانۍ څه ډول جوړولې؟ د هغې د جوړولو طريقې په ياد انځور كړئ!

۲- ستاسې په فكر ولې ډيرې مهمې ودانۍ په مصر كې د فرعونيانو مقبرې دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۲



# له رس (مکن) خټې څخه د حجمونو جوړول

## ایا پوهیږئ چې ستاسې په شاوخوا کې کوم حجمونه شته دي؟

وګـړي له بېلو بېلو مـوادو څخه، لکه: خټه،ګچ،لرګي،فلز،شیشـه او ....ځینې حجمونه یا ښـکلي لاسـي کارونه جوړوي. رس خټه د سـرې خاورې او اوبو له مخلوط کیدو څخه جوړیږي. خټه یوه نرمه شکل منونکې ماده ده چې د مختلفو حجمونو د جوړولو لپاره مناسـبه ده. تاسـې هم کولای شـئ چې له جوړې شوې خټې څخه (خو چې په لاس پورې ونه نښـلي) د خپلې خوښې حجم جوړ کړئ. کـه جوړه شـوې خټه موجوده نه وي، نو د کار له سـرته رسـولو څخـه یوه ورځ مخکـې، د رس خـاوره له غلبېل (پرویزي) څخه و باسـئ او لـرې او به په کې واچوئ چې د خټې شـکل غوره کړي او بیایې په سـوکونو ښه ووهئ چې خټه د



(۱تصویر) دختو اخښل



(c) ketabton.com: The Digital Library

کار کولو لپاره تیاره شــي. وروســته بیا هغه په پلاستیکي کڅوړه کې واچوئ چې وچه نه شي. د کار د پیل لپاره لومړی د خپلې خوښې موضوع انتخاب کړئ. بیا په لاس باندې خټې ته بڼه یا شــکل ورکړئ او هغه څه چې غواړئ، جوړ یې کړئ. وروسته له هغې چې ستاسې حجم جوړ شو، د پخولو لپاره یې د تودوښې په کوره کې کښېږدئ چې پوخ شي.



(۲تصویر) د خټې دایروي کول



(۳تصویر) د خټې له غونډارې څخه د حجم جوړول



(٤ تصویر)غونډارې ته بڼه ورکول



**تمرین:**

خپله خوښه کړې موضوع، لکه: کورنۍ، څاروي یا کوم بل شی له خټې څخه جوړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳



# د خپلې خوښې د فصل نقاشي

**تاسې د کال کوم فصل خوښوئ؟**
**ددې فصل ښکلاوې په خپلو نقاشيو کې څه ډول ښکاره کولای شئ؟**

د کال هر فصل خپلې ځانګړې ښکلاوې لري.د پسرلي موسم شين والی او تازه ګي،له ګلانو او غوټيو څخه د ونو ډک ښاخونه،نرم او ملايم پسرلني بادونه، پسرلني بارانونه،د الوتونکو د ځالو جوړونه له ځانه سره لري. د نقاشۍ لپاره د پسرلي د موسم له موضوعګانو څخه ګټه اخيستلای شو. داوړي د لمر ځلېدونکې سترګه،دغنمو زرين کښتونه،ميوه لرونکي ونې، اوږدې ورځې او په اوبو کې لامبل رايادوي. د منې موسم ملايم بادونه، دونو رنګينې پاڼې،نرم بارانونه او د الوتونکو کوچيدل له ځانه سره لري. د ژمي موسم سپينې واورې،ساړه بادونه، دواورې ډکې ښکلې منظرې،په واورو کې د الوتونکو او ځارويو



(۱ تصوير)پسرلنی رنګ په رنګ غوټۍ



(۲ تصوير)په اوړي کې دګلو ډکې دښتې ځانګړې ښکلا لري



(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښو پلونه، د ونو لانده او تش ښاخونه، خړ بخن او بنفش آسمان زموږ په ذهن کې ژوندی کوي. د هر فصل ځانګړتیاوو ته په ډیر غور او دقت پاملرنه وکړئ او د هغوی په هکله سره وغږیږئ. هر یو فصل په کومو شکلونو او رنګونو ښوولای شئ؟



(۳ تصویر) د مني په موسم کې د ونو رنګ په رنګ پاڼې



(٤ تصویر) واوره، ځنګل، سپین رنګ، ساړه، ... په ژمي کې



**تمرین:**

۱- تاسې د خپلې خوښې فصل انځور کړئ.
۲- د هر فصل رنګونه سره پرتله کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴

# درس له ختې څخه د ګوتو د فشار په طریقه د حجمونو جوړول



## ایا تر اوسه مو په لاس کوم لوښی جوړ کړی دی؟

د ختین حجم د جوړیدو ډیرې ساده لارې چارې د ګوتو او فشار طریقه ده. په دې طریقې کولای شو چې بېلابېل حجمونه جوړ کړو، لکه: کاسه، غاب، پیاله او ګلان په دې طریقه تیارې شوې ختې ته باید ښه فشار ورکړ شي.



(۱- تصویر) د خمیره شوی ختې غونډاری


هغه باید د غونډارۍ په ښه جوړه شـــي او بیا هغه د لاس په ورغوي کې کښېږدئ او د بل لاس پـــه ګوتو هغه ژوره کړئ. د خپل خوښ شوې شکل په څېر یې جوړ کړئ. هر څومره چې د هغې څنډې ښــکلې جوړې کړئ په هغه اندازه ښکلې کېږي. ددې لپاره چې ختټه وچه نه شي، لږې اوبه ورزیاتې کړئ. له هغې وروســته چې ستاســې لوښــی جوړ شو، د مختلفو وسیلو په واسطه، لکه: (د خودکار قلم پوښ او کفلي ستن ...)فشار ورکړئ تر څو په کې بېلابېل نقشـونه جوړ او لوښي ښکلي شي.



( ۳ تصویر) دکاسې څنډو ته شکل ورکول



( ٤تصویر) دکلولې ژورول



(۲تصویر) دکاسې دېوالونو ته شکل ورکول



**تمرین:**

۱-په خپله خوښه یوه کاسه،غاب،پیاله او یاګلان جوړ کړئ.

۲-د شتو موادو په مرسته لوښي نقاشي کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ۱۵



# د لرغوني هند، لرغوني چين او جاپان هنرونه

## ايا تر اوسه مو د هند او لرغوني چين د هنرونو په اړه څه فکر کړی دی؟

د لرغوني هند هنر: د لرغوني هند په هنري اثاروکې د معبد وداني، مجسمه جوړونه، په تيرېکې توړل شوی ريليف نقشونه او نقاشي شاملې دي چې په بودايي او هندويي دينونو پورې اړه لري. د هندوانو په معبدو کې، معماري او مجسمه جوړونې سره تړلې دي او يو له بله نه شليدونکی اړيکې لري. د بودايي دين ډيري لويې لويې نقاشي او مجسمې په هند کې شته دي. لومړی تصوير د هندوانو د هنري اثارو ښکارندويي کوي. د لرغوني چين هنر: د چين – خطاطي او نقاشي په ټوله نړۍ کې زيات شهرت لري. چينايانو د خطاطي او نقاشي لپاره له يو ډول روش او وسيلو څخه کار اخلي. هغوی د طبيعت په هکله د مختلفو موضوعګانو په اړه خپل ذهني او خيالي انځورونه



(۱تصوير)د خاجوراهو معبد(خاجوراهو)په هند کې.
د هندوانو په معبدو کې مجسمې د معماريو په ديوالو
او منارو باندې جوړېږي.



(۲ تصویر)د چین هنر،د نیلو فراتي گل چې د (یون شوینگ)اثر دی او په لاس انځور شوی دی.

د مویك قلم او رنگ په مرسته د کاغذ پر مخ یا په وریښمو باندې انځورول. په چیني نقاشۍ کې د اشغال شوې فضا او خالي فضا تر منځ ځانګړې ارتباط او همدارنګه د ښکلا اړیکه د خط او نقاشۍ ترمنځ وجود لري. د بودایي هنرد مجسمې جوړونې او نقاشیو زیاتې نمونې او په ځانګړې ډول د بودا لویې مجسمې په چین کې لاتر اوسه پرځای پاتې دي. چین د چیني لوښو په جوړولو، ښکلا او ظرافت کې نړیوال شهرت لري. د چین هنر ته په دویم تصویر کې پاملرنه وکړئ:

د جاپان هنر: د لرغوني جاپان هنر د چین له هنر څخه خپله لار موندلې ده. د طبیعت منظرې، ګلونه، الوتونکي، انسانان، د ژوندانه صحنې او جاپاني طراحي شوي داستانونه نړیوال شهرت لري. په جاپاني نقاشۍ کې رنګونه ځلند دي او طبیعت په تزئیني ډول ښودل شوی دی. جاپانیانو د چین طوماري نقاشۍ د ژوندانه د صحنو د ښکاره کولو لپاره په کار وړه او طوماري نقاشۍ یې د پېښو د ښوولو لپاره په خو برخو وویشله. په دریم تصویر کې د جاپان د نقاشۍ نمونې ووینئ.

(۳ تصویر)د جاپان هنر د(لوی موج په نوم یادیږي او د ((هوکوسای))کرا وور جاپانی،د(توکو کاوای دوره ۱۹۰۰م)



**تمرین:**

۱- د چین، هند او جاپان په هنرونو کې کومې ځانګړتیاوې وجود لري؟

۲- په یوه اخباري نازك کاغذ باندې د خپلې خوښې موضوع انځور کړئ او یو طوماري نقاشي جوړه کړئ.





(c) ketabton.com: The Digital Library

١٦



# جوړښت یا بافت

## له رنګ پرته نور کوم شیان د سطحې په شیانو او موجوداتو کې وینئ؟

جوړښت د پدیدو ظاهري پوښښ دی چې کله یوازې د لیدنې وي او بصري ارزښت لري.لومړي تصویر ته پام وکړئ. کله په لاس وهلو هم احساسیږي او بصري لامسه یې ارزښت لري.دویم تصویر ته وګورئ.
جوړښتونه په دوو طبیعي او مصنوعي ډلو ویشل کیږي.طبیعي یې هغه دي چې په زیاته اندازه تنوع لري، لکه: د میوو پوستکي،د حیوان پوستکي، د مار پوستکي د ونو دتنې پوستکي او .........چې هر یو یې خاصې ځانګړتیاوې لري.مصنوعي یې انسانان له مختلفو موادو څخه لاس ته راوړي.



(١- تصویر) پتنګ وزرونه او بدن دی چې بصري دي او د لمس کولو په وخت کې یې ژور تیاوې نه احساس کیږي.



(٢- تصویر) د الوتونکي د بڼکو په لمس سربیره د بافت یوه نوې تجربه احساسوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د جوړښتونو په لیدنو درک کوو،په لمس کولو یې خپل درک بشپړو.د لومړی نمونې په لمس کولو زموږ په ذهن کوم نوی درک نه اضافه کیږي،لکه: د مرمرو د تیږو په نقاشیو لاس وهل.اما په بصري- لامسه جوړښتونو کې دلیدلو له پلوه بافت ته متوجه کیږو او هم د لمس کولو په وخت کې نوی احساس را ته پیدا کیږي، لکه: د یوه الوتونکي په بدن لاس تیرول.



(۳ تصویر)دنرمو او زیږواو بدنو ډولونه د پاڼو او تنې په لمس کولو تجربه کولای شو.



(٤ تصویر)د اناناس په میوه کې ژور والي ته پاملرنه وکړئ.لمس کول یې کوم احساس را پاروي؟



(۵ تصویر)د مرمرو د تیږو بافت چې یوازې په لیدلو درک کیږي.



**تمرین:**

۱- په خپل شاوخوا کې مصنوعي او طبیعي جوړښتونه پیدا او هغه لمس کړئ او د دې تجربې په هکله سره وغږیږئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷



# د خټو د حجمونو رنګول

## په کومو طریقو کولای شئ د خټو حجمونه ښکلي کړئ؟

د خټو په حجمونو باندې د نقشونو په جوړولو رسربیره د حجمونو د ښکلا لپاره یوه لاره د هغې رنګه کول دي. د رنګه کولو نه مخکې باید لوښي وچ شوي وي. په بېلو بېلو موادو، لکه: ګیاهي رنګونه (زردچوبه)، معدني رنګونه لکه (لاجورد) چې له سلیښتو سره ګډ شوي وي، پلاستیکي رنګونه او یا

(۱- تصویر) سفالی نقاشي شوی حجم



(c) ketabton.com: The Digital Library

آبی رنګونه که ولرئ، خپل ختین حجمونه پرې رنګ کړئ. کولای شئ دا رنګونه په خپله خوښه ډېر رقیق (رنګ له زیاتو اوبو سره مخلوط) او یا رنګ غلیظ (رنګ له کمو اوبو سره) مخلوط کړئ. ددې لپاره چې رنګونه را ښه شي نو له رنګه کولو مخکې یې په سپین رنګ رنګه کړئ او وروسته یې د خپلې خوښې په رنګونو رنګه کړئ. کله چې رنګونه وچ شول، نو بیا وارنس پرې وموښئ، تر څو رنګونه ثابت پاتې شي او خپله ښکلا له لاسه ور نه کړي.




(۲ - تصویر) د رنګه ولو مرحله



(۳ - تصویر) د الوښې په دایروي شکل په ابي رنګو رنګه شوي دي



(٤ تصویر) دا لوښې له ختو څخه د کاسې منځنی برخې ته په ابي رنګونو رنګه شوي دي.

## تمرین:

له ختو څخه په خپله خوښه یو حجم جوړ کړئ.





(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۸



# د لرغوني یونان او لرغوني روم هنرونه


## د لرغوني یونان او روم هنرونه د نورو هیوادونو له هنرونو سره څه تو پیر لري؟

د لرغوني یونان هنر: یونانیانو د ورته والي یا شباهت د هنر لومړنۍ نمونه له طبیعت څخه په لاس راوړه. د یونان ډیر مهم آثار انساني مجسمې، د معمارۍ ودانۍ، دیوالي نقاشۍ، او نقش لرونکي ګلدانونه دي. د یونان دیوالي نقاشۍ او مجسمې له منځه تللي دي. د یونان هنرمندان په نقاشۍ او مجسمه جوړولو کې د انسان د بدن په جوړولو کې له ډیرو ښکلو تناسبونو څخه استفاده کوي.

(۱- تصویر) د اکروپولیس معبد د یونان په اتن کې ۴۵۰ ق م



(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲ تصویر)دیوالی نقاشي په روم کې ۵۰م کال

لومړی تصویر د یونان د معمارۍ نمونه ده.
دلرغوني روم هنر: د لرغوني روم مجسمې او نقاشي د یونان له هنري اثارو څخه کاپي شوي دي او د روم هنر د یونان له هنر څخه ریښې اخلي. رومیان د یونانیانو په شان له طبیعت نه تقلید کوي. هغوی په نړۍ کې د لومړي ځل لپاره په نقاشۍ او مجسمه کې د ورته والي یا شباهت هڅې کړي دي. په روم کې د لویو ودانیو جوړول پیل شول.
رومیانو په دیوالي نقاشیو او موزائیک کې (د وړو او رنګه پارچو د څنګ په څنګ ایښودلو څخه چې په دیوالونو، چتونو او د ځمکې په مخ لګول کیږي) د ودانیو د ښکلا لپاره ګټه اخیستله. ۲ او ۳ تصویرونه د لرغوني روم له هنر څخه انتخاب شوي دي.



(۳ تصویر)په موزائیک جوړ شوی دی د(نبرد ایسوس)رومي کاپي له یوناني موزائیک څخه د مرمر له جنس څخه تاریخ ۱۰۰ م



**تمرین:**
که وغواړئ خپله نقاشي د موزائیک په ډول سرته ورسوئ باید کوم کارونه تر سره کړئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹


# د بېلو بېلو سيمي حجمونو جوړول

**د کب او الوتونکي د جوړولو لپاره څه کوئ؟**
**تاسې تر اوسه کبان او الوتونکي ليدلي دي؟**
**کوم يو ډول يې جوړولای شئ؟**




خپلې خوښې شوې نمونې ته په غور او دقت وگورئ او يا دهغې عکس وگورئ. د هغې شکل، اندازه، تناسب او ... خپل ذهن ته وسپارئ. وروسته د هغې په جوړولو کې د سيمي کُرې له ميتود څخه گټه واخلئ. سيم په يولس سانتي متره لرگي باندې تاو کړئ او يوه وړه سيمي کُره جوړه

(۱ تصوير)



کړئ. په دقت سره هغه شکل چې ستاسې په ذهن کې دی، پرې اضافه کړئ.
ترڅو هغه شکل چې غواړئ، جوړ شي. جوړ شوی کب او یا الوتونکی په
هغه وسیله بشپړ کړئ چې لرئ یې. د مثال په توګه د سترګو لپاره یې د میوو
د زړي (خسته) او د وزرو د جوړیدو لپاره له طبیعي ښکو څخه ګټه واخلئ
په پای کې یا ټول لاسي کار او یا د هغه ځینې برخې رنګه کړئ.



(۲ تصویر) تکمیل شوی پتنګ




(۴ تصویر) سترګې او لکی ورسره وصل کړئ



(۳- تصویر) سیمي کُرې ته د کب شکل ورکړئ.

**تمرین:**

۱- خپل کارونه د نورو د ننداري لپاره کښیږدئ او د هغې په هکله و غږیږئ.





(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰




# دمسحیت هنر

## د مسیحي هنر په هکله په څه پوهیږئ؟

د مسـحیت د لومړنۍ دورې هنر: د مسـحیت په پیل کـې د لرغوني روم حکومـت دا دین په رسـمیت نـه پیژاند او د حضرت مسـیح(ع) پیروان یې شکنجه او ازارول. دوی د ځان له ویرې عباداتونه د ځمکې لاندې کوټو(زیر زمینۍ)کـې په پټه تر سـره کـول. په دې کوټو کې د مسـیحیانو د مړو قبرونه هم وو. لومړنۍ نقاشـۍ یې د همدې کوټو په دیوالونو انځور کړې وې. لومړي تصویرته وګورئ. د بیزانس هنر: د مسـیحي دین له رسـمي کیدو وروسته د

(۱تصویر) د مسحیت په لومړنیو وختونوکې په زیر زمینوکې انځورګري ۴۰۰ م کال






(c) ketabton.com: The Digital Library

معمــاری هنر او د بیزانــس هنر ورو،ورو را منځته شــو او ۱۰۰۰ کالــه یــې دوام و مونــد. د بیزانس کلیســا وو ته یې په رنگه موزائیک ښکلاورکوله. دغو موزائیک کاریو د روم او یونان له هنري کارو څخه واټن ونیو، تر څو د مســیحي دین د هنرونو برياوې تر لاسه کړي. دویم تصویر ته وگورئ.

د گوتیک هنــر: د گوتیک هنر له ایټالیې څخه پیل شــو او ټولــې اروپا ته و غځید. د گوتیک په دوره کې، د لویو او ډیرو لوړو کلیســاوو جوړولــو دود و موند چې هغه د کلیســاوو د دیوالونود نقاشــۍ لپاره مناســب نه وو، نو ځکه مسیحي هنرمندانو په کړکیو او رنگه ښیښو باندې خپل هنر ته ادامه ورکړه.

۳ او ٤ تصویر ته و گورئ.



(۲ تصویر) د ســانتا آپولیناره کلیســا (د کلیســا داخلي فضا ((ســانتا آپولینــاره)) ۵۰۰ میلادي



(۳ تصویر) نقش شوی کړکي (دکلیسا رنگه کړکي ((شاټره)) ۱۲۰۰ میلادی)



(٤ تصویر) دگوتیک کلیسا باندنی برخه (د ایټالیا د میلان کلیسا ۱۳۸۶)

تمرین:

۱- له خپلو خپلوانو او دوســتانو ســره د رنگه ښیښو او د کوټې په داخلي فضا باندې دهغو د تاثیر په هکله وغږیږئ او د خبرو پایلې په څو کرښو کې ولیکئ.

۲- له کومو تمدنونو سره چې اشنا شوي یاست. د هغو د معماری نمونې سره مقایسه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۱

# له طبيعي موادو څخه د لاسي کار جوړول

## د خپلې خوښې شکلونه په ساده طبيعي موادو جوړ کړئ.

ستاسې په چاپيريال کې کوم طبيعي مواد پيداکيږي؟ لکه د ونو ښکلي نري ښاخونه، دونو د تنو پوټکي، د ونو پاڼې، ګلپاڼې، د الوتونکو بڼکې، زيږې او وړې ډبرې، د ميوو زړي ...له خپل چاپيريال څخه را ټول کړئ. خپلو را ټول شوو موادو ته په ځير وګورئ او فکر پرې وکړئ. وروسته وګورئ

(۱- تصوير) د طبيعي موادو راغونډول



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د کومو شکلونو د جوړولو لپاره باید وکارول شي.د سليښتو په واسطه را ټول شوي مواد داسې سره کلک کړئ چې ستاسې د خپلې خوښې شکل ترې جوړ شي.له دغو موادو څخه چې تاسې را ټول کړي دي، څو مختلف شکلونه جوړولای شئ.



(۲ - تصویر)په طبیعي موادو دیوه انسان دځیرې جوړول



(۳ - تصویر)په طبیعي موادو دیو الوتونکي جوړول



(٤ - تصویر)په طبیعي موادو دیوه مچ جوړول

**تمرين**:

۱-د طبیعي موادو له څو نمونو څخه، لکه: د ونو پاڼې، لښتې،تيږې،د بېلو بېلو زړو یا مندکوڅخه دخپلې خوښې شکل جوړکړئ.

۲- د طبیعي ډول ډول موادو له ترکیب څخه، لکه: له تيږې،زړي او پاڼو څخه په خپله خوښه یو شکل جوړکړئ.





(c) ketabton.com: The Digital Library

٢٢

# د افغاني هنرمندانو پېژندل

## د افغانستان د معاصر هنر بنسټ ایښودونکي څوک دي؟

### پروفیسور غلام محمد میمنګي:



استاد غلام محمد میمنګي د فاریاب ولایت په یوې مشهورې کورنۍ کې په ۱۲۵۲ کال کې وزیږید. خدای(ج) هغه ته په کوچنوالي ډېر عالي هنري استعداد ورکړی و. هغه په ډېر لږ وخت کې د امیر عبدالرحمان خان او د هغه دربارانو پام ځان ته را واړاوه او په څوارلس کلنۍ کې کابل ته راغی. نوموړی د ډېرو غښتلو نقاشانو د لارښونو له امله یو لوی هنرمند شو. استاد په هنري برخو کې ستر خدمتونه کړي دي د هغو له جملې څخه په ۱۳۰۲ هجري کال کې یې د صنایعو ښوونځی تاسیس کړ چې تر اوسه ډېر لوی لوی هنرمندان په کې روزل شوي دي او په هنري کارونو بوخت دي. پروفیسور غلام محمد میمنګي



(c) ketabton.com: The Digital Library

په نقاشي، رسامي سربېره په موسيقۍ، معمارۍ، مهندسۍ، شعر او ادبياتو کې يې لوی لاس درلود. له استاد څخه ډېر هنري آثار پاتې شوي دي چې د هېواد په دننه او بهر کې ساتل کيږي. دده د نقاشۍ خو اثار د افغانستان په ملي گالري کې ساتل کيږي. استاد د ١٣١٤ کال د ليندۍ (قوس) په مياشت کې له دې فاني نړۍ څخه سترگې پټې کړې او په کابل کې خاورو ته وسپارل شو.

## استاد برښنا:



مرحوم استاد عبدالغفور برښنا د افغانستان ډېر تکړه او غښتلی هنرمند و. استاد برښنا په ١٢٦٨ کال په کابل کې وزېږيد. د حبيبيې په ليسه کې يې خپل تحصيلات بشپړ کړل او د عالي هنري تحصيلاتو لپاره لويديځ المان ته واستول شو. خپل عالي تحصيلات يې د المان د ښکلو هنرونو په اکاډمۍ کې د شپږو کالو په موده کې پای ته ورسول او بيرته وطن ته راستون شو. په هنري او فرهنگي کارو بوخت شو. برښنا په نقاشۍ کې يو وتلی هنرمند و. سربېره پر نقاشۍ په موسيقۍ، تمثيل، او د ډرامو تمثيلي ټو ټو په ليکلو کې يې لوی لاس درلود. استاد برښنا د افغانستان معاصر هنر ته تر يوې کچې ولسي بڼه ورکړه. د افغانستان بېلې بېلې تاريخي صحنې او د افغانستان د خلکو کړو وړو ته يې مراجعه وکړه او د ټولنې د ټيټې طبقې معاصر هنر يې ور دننه کړ. استاد برښنا د امکان تر پولې هڅه وکړه چې ډېر سوچه افغاني رنگونه په افغاني سوچه موضوعگانو کې وکاروي، تر څو افغاني هنر د اروپايي هنر له اغېزې جلا کړي. د استاد



(c) ketabton.com: The Digital Library

برښنا اثار لرغوني تصويرونه،طبيعي منظرې،فولکلوريکې موضوعګانې او د ډېرتريتونو رسمونه ټول د خپلو خلکو د هويت ځرګندوی دي.استاد په ۱۳۵۲ هـ ش کال کې د۶۶ کالو په عمر له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې او په کابل کې خاورو ته وسپارل شو.

## استاد غوث الدين:

استاد (غوث الدين غوثي) د غلام محی الدين زوی په ۱۲۸۹ هـ ش کال يې په کابل کې سترګې و غړولې.ده ابتدايي تحصيلات په غزني کې سرته ورسول.ځوان غوث الدين په ۱۳۰۹ هـ ش کال له يوی څلوېښت کسيزې ډلې سره د صنايعو په ښوونځی کې د نقاشۍ د هنر د زده کړې لپاره شامل شو. تر فارغيدو وروسته په همدې ليسه کې د ښوونکی په صفت وګمارل شو.بيا د مخابراتو په وزارت کې د پستي موزيم د مدير په حيث و ټاکل شو. په ډېرو زياتو پستي ټکټو کې دده اثار موجود دي. په قندهار کې ډيرې مهمې او تاريخي پيښې چې ډېر کالونه يې دوام کړی وو،دده په اثارو کې ليدل کيږي.





(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اثار شل هنري اثرونه دي چې دریالیزم او رومانتزم په سبک انځور شوي دي. استاد غوث الدین په ۱۳۶۱ هــ ش کال کې د هنرمندانو د اتحادیــې رئیس و. دده اثارو په اســیا، افریقا او په مصر کې لومړۍ جایــزې تر لاســه کــړي دي. همدارنگه دده اثارو په هندوســتان او بلغاریــا کې هم جایزې گټلي دي. د اثارو شــمیر یــې له (۲۰۰۰) تر (۲۵۰۰) پورې رسیږي. هغه د پوهنې وزارت د هنر نښان او ربښتین نښــان تر لاسه کړي دي. استاد د ۸۵ کالو په عمر په امریکا کې مړ او په هغه ځای کې خاورو ته وسپارل شو.



**تمرین:**
تاسې په خپلو ولایتونو کې کوم هنرمندان پیژنئ؟ د مهمو اثارو نومونه یې واخلئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان له ملي موزيم سره پېژند ګلوي

موزيم داسې ځای يا ودانۍ ده چې د هيواد تاريخي او فرهنګي اثار په کې ساتل کېږي. د هنري او تاريخي نمونو ساتل په فرهنګي لحاظ د ډېر ارزښت وړ دي. دولت د تاريخي اثارو د ساتنې لپاره موزيمونه ايجادوي. د افغانستان د ملي موزيم بنسټ په ۱۲۹۲ هـ ش کال کې د عجايب خانې په نوم کيښودل شو. په لومړنيو وختونو کې په هغه کې خطي نسخې، د قرانکريم تفسيرونه، په لاس ګنډل
شوي توکي، حربي وسيلې، بيرق او ....ساتل کېدل. دا اثار د ۱۳۰۷ او ۱۳۰۸ هـ ش کالو ځان بوږ نوونکو پېښو او بريدونو لاندې راغلل او پاتې شونې يې په ۱۳۰۸ هـ ش کال کې يوې بلې ودانۍ ته يوړل شول او د کابل د موزيم تر عنوان لاندې يې خپل مناسب فعاليت پيدا کړ. په ۱۳۳۹ هـ ش کال د يونسکو د هيئتونو په مرسته د موزيم تشکيلات د علمي معيارونو په پام کې نيولو سره اصلاح کړای شول. د کابل موزيم په ۱۳۵۲ هـ ش کال کې د افغانستان د ملي موزيم په نوم ياد شو.
په ۱۳۵۳ هـ ش کال کې د هغه الماری او ويترينونه په عالي شکل ډيزاين شول، تر څو چې اثار يې نندارې ته کښېښودل شي او نوي ځانګې په کې جوړې شوې، تر څو د هغې بيا جوړونه تر سره شي. پر هغې سربيره هنري اثارېي فهرست بندي هم شول. د کورنيو جګړو په پيل سره په ډېر تاسف چې ډېر کالونه يې دوام وموند، ملي موزيم مناسبه پراختيا ونه موندله.
د افغانستان په ملي موزيم کې د هيواد د بېلو بېلو سيمو ډېر زيات شمير اثار په مختلفو پيرېو پورې، لکه: د ډبرو دورې، د برونزو دورې د اوسپنې دورې پورې اړه لري، ساتل کيږي.
سربيره په دې د لومړنيو مدنيتونو يو زيات شمير اثار، لکه: کريکو باختري مدنيت کريکو- بوديک مدنيت او د ګندهارا مدنيت په دې موزيم کې ساتل کيږي.

## د اووم ټولګي د منابعو فهرست


۱- د ماشومانو او نوي ځوانانو د نقاشۍ د تدريس لارښود، د غلام محی الدين شبنم غزنوي اثر، ۱۳۸۰ هـ ش کال

۲- د لومړنۍ دورې د لومړيو، دويمو او دريمو ټولګيو د هنر د تدريس لارښود. کود نمبر ٤- ۵۳ و ۱۳۸۵

۳- د طراحۍ او نقاشۍ د طريقو لارښود. رويين پاکبار

٤- د تجسمي هنرونو جهاني مسلکي او حرفوي کود ۲۱- ۳۵۸،۱۳۸٦

۵- د تجسمي هنرونو اصول، ډاکتر محمد حسين حليمي

٦- طرح او شکل (کلاس مقدماتی من درما هاوس)، يو هانس ابتن.

۷- سود طراحي فنی و حرفوي کود ۹۲- ۳۵۹، ۱۳۸٦

۸- د ابتن د رنګ کتاب.

۹- د لاسي چاپ کارګاه ۱ فنی حرفوی کود ۲۰- ۳۵۸،۱۳۸٤

۱۰- د هنر دايرة المعارف، رويين پاکبار.

۱۱- د هنر تاريخ، ارزښت، کامبريج، د تهران نشرات، تهران، ۱۳۸۰

۱۲- د نړۍ د هنر تاريخ، فنی او حرفوی کود ٤۰- ۱۳۸۵ او ۷- ٤۷۰،۱۳۸٦

۱۳- په تاريخ کې د هنر سير ۱، د پوهنځی نه مخکې کود ۳- ۵۹٤،۱۳۸٦

۱٤- افغانستان (دمقالو مجموعه) ژباړونکی هوشنګ اعلم او مرتضی اسعدی

۱۵- د افغانستان د تاريخ فشرده فاروق انصاری د مطالعاتو مرکز، کابل، ۱۳۸٦

۱٦- د افغانستان مختصر تاريخ، علامه عبدالحی حبيبی.

۱۷- د خط تاريخ او دافغانستان لرغوني ليکنې. علامه عبدالحی حبيبي.

۱۸- موزيم پيژندنه او د افغانستان د موزيمونو سره ډيپارتمنت اتنوګرافي او لرغون پيژندنه، د کابل پوهنتون د اجتماعي علومو پوهنځی، پوهندوی محمد رسول باوري- کابل ۱۳۷۵ کال.




(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library